RAWADARI · رواداری



راپور شمېره ۳ | ۲۳ جنوری ۲۰۲۲

# په افغانستان کې خپلسرې
# او غیر قانوني نیونې

۱۵ اگست ۲۰۲۱ – ۱۵ نوامبر ۲۰۲۲

rawadari.org

Photo: Mohammad Husaini, unsplash.com

## لړلیک


| | |
|---|---|
| سریزه | ۳ |
| د راپور تشریح | ۵ |
| د مخکني حکومت د کارکوونکو خپلسري او غیرقانوني نیول | ۵ |
| د مدني فعالانو، د بشر حقونو د مدافعانو او خبریالانو خپلسرې نیونې | ٦ |
| د ښځو خپلسرې او غیر قانوني نیونې | ٦ |
| د مقاومت جبهې د غړیتوب په تور د افرادو غیر قانوني نیونې | ۷ |
| د خپلسرو او غیر قانوني نیونو نور موارد | ۷ |
| شکنجه او د نیول شویو کسانو اجباري تري تم کېدل | ۷ |
| پایله | ۸ |
| وړاندیزونه | ۹ |


RAWADARI · رواداری

## سریزه

د طالبانو تر کنټرول لاندې افغانستان کې د آزادۍ او شخصي امنیت د حقونو نقض له شته ننګونو او اندېښنو څخه دي، چې په دې هیواد کې د ډار او وېرې د فضا رامنځته کېدو لامل شوي. د رواداري د موندنو او معلوماتو پر بنسټ، طالبانو د ۲۰۲۱ په آګست میاشت کې پر هیواد له مسلط کېدو وروسته، سلګونه تنه هیوادوال چې ډېری یې د مخکني حکومت کارکوونکي او په ځانګړې ډول د امنیتي او دفاعي بنسټونو منسوبین ؤ، په خپلسري ډول نیولي دي. همدا راز، لسګونه مدني فعالان، خبریالان او د بشر حقونو مدافعان یې د عدالت غوښتونکو فعالیتونو او پر شته وضعیت د نیوکو له امله نیولي او له تاوتریخوالي او بد چلند سره مخ شوي دي. له دې سره هممهاله ، طالبانو سلګونه نور کسان د «ملي مقاومت جبهې سره د همکارۍ او غړیتوب» په تور، لسګونه معترضې ښځې، او یو شمېر سلفیان نیولي او توقیف کړي دي.

د رواداري موندنې ښيي چې طالبانو د مخکني حکومت له کارکوونکو څخه د غچ اخستلو په انګېزه او د معترضانو او مخالفینو د ټکولو په موخه، په خپلسري او غیرقانوني توګه خلک نیولي او توقیف کړي دي. دا په داسې حال کې ده چې په افغانستان کې د مخنیوي هغو قانوني میکانیزمونو چې د دغه ډول چلندونو په مخنیوي کي مرسته کوي او د هغه مرتکیبین ځواب ویونکي کوي، عملاً کارول او اغېزمنتوب له لاسه ورکړي دي.

## د معلوماتو راټولول


اوسنی راپور، په ځانګړي ډول له ۱۵ اګست ۲۰۲۱ څخه تر ۱۵ نوامبر ۲۰۲۲ کال پورې د طالبانو د واکمنۍ په دوره کې د آزادۍ د نقض او د خپلسرو او غیر قانوني نیونو په اړه دی، چې رواداري بنسټ له لوري په کابل، قندهار، هرات، ننګرهار، بامیان، کنر، ارزګان، هلمند، بدخشان، کندوز، دایکندی، سرپل، تخار، غور، میدان وردک، غزنی، پنجشیر، پروان، بغلان، خوست، پکتیا، پکتیکا، فراه، نیمروز، بادغیس، کاپیسا، نورستان، لغمان او بلخ ولایتونو کي څېړل شوي او مستندسازي شوی دي. په دې راپور کې راغلې موندنې او اطلاعات په افغانستان کې د بشر حقونو د وضعیت د منظمې څارنې په پایله کې ترلاسه شوي، او لږ تر لږه د دریو خپلواکو او معتبرو سرچینو چې له دي ډلي د قربانیانو د کورنۍ غړې او نږدې خپلوان، عیني شاهدان او نورو باخبره سیمه ییزي سرچیني پکي شاملي دي تائید شوي دي.

## د بشر حقونو په  نړیوالو اسنادو کې د خپلسرو او غیرقانوني نیونو منعه

د بشر حقونو نړیوال اسناد د آزادۍ او شخصي امنیت درلودلو حق د خلکو د مهم بشري حق په توګه په رسمیت پیژندلی او تضمین کړی دی. دا حق د خپلسرو او غیرقانوني نیونو څخه د خلکو د خلاصون تضمینوونکی دی. لکه څنګه چې د ۱۹۴۸ کال د ډسامبر پر لسمه د ملګرو ملتونو سازمان د بشر حقونو د نړیوالې اعلامیې په نهمه ماده کې وایي: «هیڅوک باید بندي، حبس یا په خپلسري ډول تبعید نه شي».

همدا راز، د ۱۹۶۶ میلادي کال د ډسامبر پر ۱۶مه د ملګرو ملتونو سازمان د عمومي ناستې له خوا د تصویب شوي سیاسي او مدني حقونو د بین المللي کنوانسیون د نهمې مادې په لومړي بند کې راغلي چې: «هر څوک د فردي آزادۍ او امنیت حق لري. هیڅوک باید په خپلسري ډول و نه نیول شي. هیڅوک باید له خپلې آزادۍ محروم نشي، مګر په هغه صورت کې چې د محاکمې اصول او مقررات یې حکم وکړي.»

د خپلسرې نیونې معنا دا ده چې د خلکو د نیولو او زنداني کولو لپاره هیڅ حقوقي او مستند بنسټ نه وي او د خلکو بندي کول، نامتناسب، غیر معقول، نا عادلانه او غیر منصفانه وي، چې تر دې هاخوا مفهوم یې له قانون سره ټکر دی. سره له دې، د بشر حقونو د بین المللي اسنادو پر بنسټ، د خلکو د آزادۍ د سلب اقدام هغه مهال مشروع وي، چې د صلاحیت لرونکو مراجعو په اجازه او د قانون له مخې ترسره شوی وي. په دې اړوند هر ډول غیرقانوني او خپلسری اقدام د یادو مقرراتو او اسنادو سرغړونه، او د بشر حقونو ښکاره نقض ګڼل کیږي. دغه راپور، د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵مې څخه د ۲۰۲۲ کال د نوامبر تر ۱۵پورې د دې سرغړونو ارزونه کوي.



## د راپور تشریح

د رواداري د موندنو پر بنسټ، د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵مې څخه د ۲۰۲۲ کال د نوامبر تر ۱۵ پورې طالبانو کم تر کمه ۱۹۷۶ تنه د افغانستان په ۲۹ ولایتونو کې په غیر قانوني او خپلسري ډول توقیف کړي دي، چې په دې کې ۱۸۳۶ نارینه، ۱۳۶ ښځې او ۴ ماشومان دي. ډېری نیول شوي کسان د مخکني حکومت کارکوونکي، د بشر حقونو مدافعان، مدني فعالان، خبریالان، دیني عالمان، سلفیان، قومي مشران او نور ملکي هیوادوال دي چې د مقاومت جبهې په غړیتوب تورن شوي دي.

ډېری دغه نیونې د طالبانو د استخباراتو سازمان له خوا ترسره شوي دي؛ خو نورې اداري او خلک لکه شاروالی، په ولایتونو کې کنډکونه او امنیتي حوزې، د امربالمعروف اداره او ولسوالان هم د خلکو په زنداني کولو کې ونډه لري.

ترلاسه شوي معلومات ښیي چې طالبانو د یادو مواردو په هیڅ یو کې د بشر حقونو موازینو او په قانون کې ټاکل شویو الزاماتو ته پاملرنه نه ده کړې، د مخالفانو د ټکولو او د روان ګډوډ وضعیت اړوند د هیوادوالو د اعتراض د امکان محدودولو لپاره یې په بې رویې توګه غیرقانوني او خپلسرې نیونې ترسره کړې دي.

**د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵مې څخه د ۲۰۲۲ کال د نوامبر تر ۱۵ پورې طالبانو کم تر کمه ۱۹۷۶ تنه د افغانستان په ۲۹ ولایتونو کې په غیر قانوني او خپلسري ډول توقیف کړي دي، چې په دې کې ۱۸۳۶ نارینه، ۱۳۶ ښځې او ۴ ماشومان دي.**

دا مهال هیڅ ډول حقوقي میکانیزم نشته، چې د غیر قانوني ناوړو چلندونو او خپلسرو نیونو پر وړاندې د هیوادوالو ملاتړ وکړي؛ ځکه دې ډلې پر افغانستان له بیا تسلط وروسته د مخکني اساسي قانون په ګډون ټول نافذ قوانین لغوه کړل. دا هغه مساله ده چې له مجازاتو څخه د بشر حقونو د نقض د مرتکبینو د معافیت او ځواب نه ویلو سبب شوې.

دا چې اوس د بشري حقونو هیڅ یو سازمان په افغانستان کې د طالبانو زندانونو ته لاسرسی نه لري، رواداري په زندانونو کې روان وضعیت او زندانیانو سره د چلند اندیښنه لري، او پر دې ټینګار کوي چې د طالبانو له خوا د خپلسرو نیونو شمېر تر هغو ډېر دی چې په دې راپور کې منعکس شوې دي.

## د مخکني حکومت د کارکوونکو خپلسري او غیرقانوني نیول

د رواداری د څېړنو پایلې ښیي چې د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵مې د ۲۰۲۲ کال د نوامبر تر ۱۵ پورې په ټولیزه توګه ۲۴۸ تنه د مخکني حکومت کارکوونکي او امنیتي او دفاعي بنسټونو ته منسوب افراد او پخواني ولسي پاڅون کوونکي نیول شوي دي. که څه هم طالبانو د عمومي عفوې په اعلان سره ډاډ ورکړی و چې هیڅ کس به له مخکني حکومت سره د کار له امله و نه نیول شي او مجازات به نه شي؛ خو واقعیت دا دی چې په عمل کې یې دې فرمان ته ژمنتیا نه درلوده او په انتقامي انګېزه یې د مخکني حکومت کارکوونکي په غیر قانوني توګه نیولي، او له تاوتریخوالي ډک چلند یې ورسره کړی دی.

د ۲۰۲۱ له اګست څخه د ۲۰۲۲ کال تر نوامبر پورې طالبانو په کندهار ولایت کې ۷۲ تنه مخکني نظامیان (۵۶ تنه پولیس منسوبین او ۱۶ تنه د ملي امنیت منسوبین) نیولي او زنداني کړي دي، چې رواداري یې له نیول کیدو وروسته د برخلیک په اړه

معلومات نه لري. همدا راز، د ۲۰۲۲ کال د اکتوبر په میاشت کې د طالبانو د استخباراتو اداري ۱۳ تنه مخکني نظامیان په غور ولایت کې ونیول.

**طالبانو حتا د مخکنیو نظامیانو د خپلوانو د کورنۍ د نږدې غړو د نیولو اقدام هم کړی، هغوی یې شکنجه کړي او بد چلند یې ورسره کړی دی.**

سربېره پر دې، طالبانو حتا د مخکنیو نظامیانو د خپلوانو د کورنۍ د نږدې غړو د نیولو اقدام هم کړی، هغوی یې شکنجه کړي او بد چلند یې ورسره کړی دی. د بېلګې په توګه په دایکندی ولایت کې ۳۲ تنه د مخکني نظامیانو د کورنۍ غړي او نږدې خپلوان د طالبانو له خوا نیول شوي او شکنجه شوي دي. د ۲۰۲۲ کال د مارچ پر ۲مه طالبانو دوه ماشومان ۱۲ او ۱۵ کلن په دې تور نیولي چې پلار یې د دایکندي ولایتي شورا غړی و، او وسله یې درلوده. طالبانو دغه ماشومان سخت شکنجه کړي، تر دې چې یو یې اوس له سختو رواني ستونزو سره مخ شوی دی. په یوه بله پېښه کې، د ۲۰۲۲ کال د سپتامبر په ۴مه، طالبانو په بدخشان ولایت کې د ولسي پاڅونونو د یو قومندان زوی ونیو، سیمه ییزو سرچینو ویلي چې هغه له ایران څخه د راستنېدو پر مهال د طالبانو له خوا نیول شوی او نامعلوم ځای ته وړل شوی دی.

## د مدني فعالانو، د بشر حقونو د مدافعانو او خبریالانو خپلسري نیونې

ترلاسه شوي شواهد ښیي چې طالبان هیڅ ډول نیوکه او اعتراض نه مني، او د توطیې اقدام او د «اسلامي امارت» د اعتبار تخریب یې ګڼي. رواداري معتبرو اطلاعاتو او تکان ورکوونکو آمارو ته لاسرسی موندلی، هغه دا چې طالبانو د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵مې د ۲۰۲۲ کال د نوامبر تر ۱۵ پورې ۴۲۱ تنه مدني فعالان، خبریالان، د ټولنیزو شبکو کارکوونکي، د پوهنتونونو استادان او دیني عالمان په غیر قانوني توګه نیولي دي. دا کسان د طالبانو پر سختو سیاستونو د اعتراض په تور او په ځینو مواردو کې په ټولنیزو رسنیو کې یواځې د یو انتقادي پوست له امله نیول شوي، او له تاوتریخوالي او بد چلند سره مخ شوي دي.

د بېلګې په توګه، طالبانو په پکتیا ولایت کې یو خبریال او یو ټولنیز فعال، یو د پوهنتون استاد، پینځه خبریالان، او په کندهار ولایت کې یو د فیسبوک ټولنیزې شبکې کارکوونکی د انتقادي پوستونو د خپرولو له امله زنداني کړي دي. په یوه بله پېښه کې، یو مدني فعال د هلمند ولایت په یوه ولسوالۍ کې د یو فیسبوکي پوست له امله د دې ولایت د ښاروالۍ له خوا نیول شوی و.

## د ښځو خپلسري او غیر قانوني نیونې

د رواداري د موندنو پر بنسټ، د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵مې د ۲۰۲۲ کال د نوامبر تر ۱۵ پورې ټول ۱۳۶ تنه ښځې په کابل، غزني، بدخشان، تخار، دایکندي، بامیان، هرات او بلخ ولایتونو کې نیول شوې او زنداني شوې دي.

**د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵مې د ۲۰۲۲ کال د نوامبر تر ۱۵ پورې ټول ۱۳۶ تنه ښځې په کابل، غزني، بدخشان، تخار، دایکندي، بامیان، هرات او بلخ ولایتونو کې نیول شوې او زنداني شوې دي.**

له مخکني حکومت سره کار، په افغانستان کې د ښځو او نجونو د بنسټیزو آزادیو په برخه کې د طالبانو د سختو سیاستونو اړوند د عدالت غوښتونکو او اعتراضي پروګرامونو سازمانول، د واده په موخه له کوره تېښته، او هغه څه چې بې حجابي یې بولي پر نیول شویو ښځو لګول شوي تورونه دي. د طالبانو حکومت په لومړنیو شپږو میاشتو کې، ښځې د امر بالمعروف او استخباراتو د ادارو د مؤظفینو له لوري بیله د ښځینه مامورانو د حضور څخه نیول شوي دي.

د ۲۰۲۲ کال د فبرورۍ پر ۱۱مه د طالبانو ډلې په کابل کې د شپې له خوا د ۷ معترضو ښځو پر کورونو برید وکړ او هغوی یې ونیولې، په دې پېښه کې د ۷ ماشومانو په ګډون د دې کورنۍ غړي هم ونیول شول.

## د مقاومت جبهې د غړیتوب په تور د افرادو غیر قانوني نیونې

د رواداري د موندنو پر بنسټ، د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵مې د ۲۰۲۲ کال د نوامبر تر ۱۵ نیټې ټول ۷۶۸ تنه د پنجشیر، بغلان، تخار او بدخشان ولایتونو اوسیدونکي د ملي مقاومت جبهې د غړیتوب او ورسره د همکارۍ په تور نیول شوي، او بندیان کړي یې دي.

له دې څخه ۳۵۵ تنه په پنجشیر، ۱۲۴ تنه په بدخشان، ۱۸۹ تنه په بغلان او د ۱۰۰ په شمېر نور په تخار ولایت کې له مقاومت جبهې سره د غړیتوب یا همکارۍ په تور نیول شوي او بندیان شوي دي. رواداري ټینګار کوي چې په افغانستان کې اطلاعاتو ته د محدود لاسرسي له امله، د بشر حقونو د نقض د قضیو مستندول په ځانګړې ډول په پنجشیر ولایت کې خورا سخت دي، نو ځکه ممکن د نیول شویو کسانو شمېر تر هغو شمېرو ډېر زیات وي چې په دې راپور کې راغلي دي.

## د خپلسرو او غیر قانوني نیونو نور موارد

د راپور موندنې ښیي چې طالبانو د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵مې څخه د ۲۰۲۲ کال د نوامبر ۱۵ پورې کم تر کمه ۴۰۳ تنه هیوادوال په بېلابېلو تورونو په خپلسري او غیر قانوني توګه نیولي او توقیف کړي دي. دا کسان چې سلفیان، محصلین، هنرمندان او نور ملکي هیوادوال دي، د وسلې درلودلو، د عشر نه ورکولو، موسیقۍ اورېدلو او د موسیقۍ د ابزارو کارولو، او د طالبانو د معیارونو برعکس د سر د ویښتو او ږیرې کمولو په تورونو نیول شوي او بندیان شوي دي.

لکه، د ۲۰۲۲ کال د جولای پر ۶مه د هلمند د ولایت یو اوسېدونکی چې خپل زکات یې د مسجد د ملا امام پر ځای یو بل فقیر کس ته ورکړی و، د ولسوالۍ د امنیتي مسولینو له خوا له خپل کوره ورل شوی او څو ورځې د طالبانو په توقیف کې و.

په یو بل مورد کې، د ۲۰۲۲ کال په اکتوبر میاشت کې د کندهار د امربالمعروف ریاست د ښار ۲۵ تنه سلمانان د خلکو د ږیرې او ویښتو د کمولو له امله نیولي او ځینې یې وهلي ډبولي هم دي.

سربېره پر دې، طالبانو ۱۹ــ تنه د سلفي مذهب پیروان په بدخشان او ننګرهار ولایتونو کې د ایډیولوژیکو اختلافاتو او د داعش د ملاتړ په تور په خپلسري ډول نیولي او بندیان کړي دي.

## شکنجه او د نیول شویو کسانو اجباري تري تم کېدل

د رواداري د موندنو پر بنسټ، د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵مې د ۲۰۲۲ کال د نوامبر تر ۱۵ موده کې کم تر کمه ۳۴ تنه چې ډېری یې مخکني نظامیان دي په هرات، غزني، غور، فراه، پنجشیر، بدخشان، هرات، بامیان او بلخ ولایتونو کې په اجباري ډول تري تم شوي دي.

یاد افراد لومړی د طالبانو ځواکونو له خوا نیول شوي او وروسته نامعلوم ځای ته وړل شوي دي. د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۲ کال د اکتوبر پر ۱۰مه ۲ تنه په بدخشان ولایت کې، او ۴ تنه نور د ۲۰۲۲ کال د اکتوبر پر ۱۷مه په پنجشیر ولایت کې د طالبانو له خوا نیول شوي او وروسته تري تم شوي دي.

**د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵مې د ۲۰۲۲ کال د نوامبر تر ۱۵ موده کې کم تر کمه ۳۴ تنه چې ډېری یې مخکني نظامیان دي په هرات، غزني، غور، فراه، پنجشیر، بدخشان، هرات، بامیان او بلخ ولایتونو کې په اجباري ډول تري تم شوي دي.**

د دې کسانو کورنیو او خپلوانو رواداري ته ویلي چې تر اوسه د خپلو عزیزانو د برخلیک په اړه هیڅ معلومات نه لري. همدا راز، د ۲۰۲۱ کال له اګست څخه د اکتوبر تر ۳۱مې په ټوله کې ۱۳ تنه د غزني ولایت مخکني نظامیان د طالبانو له خوا نیول شوي چې رواداري نه ده توانېدلې د هغوی د برخلیک په اړه معلومات ترلاسه کړي.

په یو بل مورد کې، د ۲۰۲۲ کال د اکتوبر پر ۱۰مه د بدخشان ولایت د شهدا ولسوالۍ د «دره بالا سر غیلان» کلي یو اوسېدونکی د طالب ځواکونو له خوا نیول شوی او نامعلوم ځای ته وړل شوی دی، د دې کس کورنۍ ویلي چې هغه له هیڅ کومې ډلې سره

تړاو او اړیکه نه درلوده او دوی یې اوس د برخلیک په اړه بې خبره دي. همداراز، د ۲۰۲۲ کال د اکتوبر پر ۳مه نېټه طالبانو یو سیمه ییز متنفذ او زوی یې په غور ولایت کې و نیول، چې تر اوسه یې د برخلیک په اړه معلومات په لاس کې نشته.

**له بل پلوه، ۹ تنه چې مخکني نظامیان ؤ، په دایکندي او ننګرهار ولایتونو کې د ډېرې شکنجې له امله د طالبانو په لاس وژل شوي دي.**

له بل پلوه، ۹ تنه چې مخکني نظامیان ؤ، په دایکندي او ننګرهار ولایتونو کې د ډېرې شکنجې له امله د طالبانو په لاس وژل شوي دي. په یوه بله پېښه کې، د ۲۰۲۲ کال د جولای پر ۲۰مه په کندهار ولایت کې د ملي امنیت ریاست یو مخکنی کارکوونکی د سختې شکنجې له امله میرویس حوزوي روغتون ته ورل شوی و.

ترلاسه شوي معلومات ښیي چې ډېری د شکنجې او بد چلند موارد د طالبانو د استخباراتو د اداري اړوند نظارت خونو کې ترسره شوي دي؛ خو دا چې رواداري د دی بندیانو ځایونو او زندانونو ته لاسرسی نه لري، نشي کولای د شکنجې د قربانیانو دقیق شمېر وړاندې کړي.

## پایله

د رواداري د موندنو او معلوماتو پر بنسټ او هغه څه ته په پام سره چې په دې راپور کې مطرح شول، طالبانو واک ته د راستنېدو له وخته تر اوسه په پراخ ډول د افغانستان د خلکو د آزادۍ او شخصي امنیت حقونه نقض کړي دي، او له خپلسرو او غیرقانوني نیونو څخه یې د خپلو مخالفینو او منتقدینو په منځ کې د وېرې او ډار د فضا رامنځته کولو د وسیلې په توګه استفاده کړې.

دا چې دا مساله پر یوې رویې او یو معمول چلند بدله شوې، د قانوني موازینو برعکس د ښاروالیو او ولسوالانو په ګډون بنسټونه او غیر مسول کسان او حتی یو عادي طالب سرتېری هم چې چېرې اعتراض یا مخالفت ووینې، په قانون کې ټاکل شویو اصولو او الزاماتو ته له پاملرنې پرته، د خلکو په نیولو او شکنجه کولو اقدام کوي.

دا چاره د دې واقعیت ښکارندویي هم کوي چې په افغانستان کې د بشر حقونو د نقض د پای ته رسولو لپاره رواني نړیوالي هڅې اغېزناکې او کارنده نه دي، ځکه خو طالبان د زور او ټکولو د بېلابېلو ابزارو په کارولو او د بشر حقونو ارزښتونو ته له هیڅ ډول اعتنا پرته، او له هر ډول عدلي او قضایي تعقیب څخه د مصونیت له احساس سره، د افغانستان د خلکو د آزادۍ او شخصي امنیت حقونه نقضوي.

## وړاندیزونه

په افغانستان کې د بشر حقونو د نقض د تر ټولو مهم مورد په توګه د خپلسرو او غیر قانوني نیونو د مخنیوي لپاره، رواداري نړیوالې ټولنې او حاکمو مقاماتو ته لاندې وړاندیزونه لري.

### الف- افغانستان کې حاکمو مقاماتو ته

۱. له طالب مقاماتو غواړو چې هغو کنوانسیونونو او نړیوالو اسنادو ته پابند اوسي چې افغانستان ورسره مخکې یوځای شوی، او د بشر حقونو د نقض د دوام د مخنیوي لپاره لازم اقدامات ترسره کړي.

۲. له حاکمو مقاماتو غواړو چې قانوني موازینو ،او په مشخص ډول د عادلانه محاکمې اصول او الزامات عملي کړي، او د افغانستان د خلکو د آزادۍ د سلب په برخه کې له هر ډول خپلسري او غیر قانوني اقدام څخه ډډه وکړي.

۳. د بشر حقونو د نړیوالو اسنادو پر بنسټ، د عادلانه محاکمې د اصولو رعایت او د مظنون او متهم اساسي حقونو ته درناوی د طالبانو قانوني مکلفیتونه دي، پر همدې بنسټ، له حاکمو مقاماتو غواړو چې د دې اصولو د درناوي تر څنګ، زندانونه ته د بشر حقونو د بنسټونو او سازمانونو د لاسرسي زمینه هم برابره کړي.

### ب- نړیوالې ټولنې ته

۱. د ملګرو ملتونو د سازمان څخه غواړو چې په خپل فعال او اغېزناک نقش لوبولو سره په افغانستان کې د بشر حقونو د پراخ نقض د دوام مخه ونیسي او د غیر قانوني چلندونو پر وړاندې د دې هیواد د خلکو ملاتړ وکړي.

۲. د ملګرو ملتونو سازمان، په ځانګړي ډول بشري حقونو برخه کې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو سازمان د مرستیالۍ څخه غواړو چې د شکنجې د مخنیوي په برخه کې د ډاډ ترلاسه کولو او د مظنونو او تورنو افرادو د نورو بنسټیزو حقونو د رعایت لپاره په منظم ډول په افغانستان کې د آزادۍ د سلب ځایونه وڅاري.

۳. له نړیوالې ټولنې او په ځانګړي ډول د ملګرو ملتونو سازمان څخه غواړو چې د بشر حقونو د ملاتړ د نړیوالو میکانیزمونو له مخې، د خپلسرو او غیر قانوني نیونو او هم د آزادۍ د سلب ځایونو د وضعیت، په ځانګړي ډول، په افغانستان کې په تېرو پنځلوسو میاشتې کې د شکنجې د قضیو اړوند څېړنه وکړي، او پایلې یې په ښکاره راپور کې خپرې کړي.

RAWADARI · رواداری

## د رواداري بنسټ په اړه

رواداري یو خپلواک او بې پرې بنسټ دی چې پر بشر حقونو د څارنې، په افغانستان کې د بشر حقونو د کلتور د پراختیا، حساب ورکوونی، او د قرباني محوره عدالت د فرهنګ د تامینولو په موخه رامنځته شوی. دا بنسټ د بې پریتوب د اصل په بشپړ رعایت او د بشر حقونو اړوندو ټولو منل شویو نړیوالو اصولو او معیارونو ته په درنښت، خپلې چارې پر مخ وړي، چې دغه راپور هم په همدې موخه د بشر حقونو د سرغړونې پېښې، څرنګه چې پېښې شوې دي، په ریښتینولۍ سره خپروي.